# د ماشومانو په تعليم او تربيت کښې د قيصې اهميت او ضرورت

# The Need and Importance of Story in the Education and Training of Children

Dr. Noorul Basar[1]

Pukhtunkhwa

## ABSTRACT

*The role of story is very important in all Literary Genres in general and particularly in Narrative Fiction. Stories have appeared since long ago in various forms and themes in the Folk Literature of Pashto. Initially, the structures of stories were based on supernatural situations, events, and characters which became close to reality with the passage of time. Among these stories, Children are of great importance. Before the advent of technology and media, story was an important part of children's lives. If on the one hand mothers lullabied their swabbling children, the grandmothers on the other hand told stories to the older children. In addition to fun and enjoyment, these stories also included education and training. Although, the tradition of these stories has become less common with the passage of time, but the need and importance of these is still young and bright .In this article, the importance of stories in the lives of children has been investigated.*

Key Words : Children , story , Pashto

[1] Assistant Professor, University of Malakand

د ماشومانو ټول ژوند د مينې ،محبت ، خندا ، ژړا ، خلوص ،سپېڅلتيا ، لوبو ، ټوقو ، سندرو صوتونو ،قيصو ، شفقت ، اللهو ، پاپلې پل او د طوطي په شان د تتو خبرو نه جوړ دے ـ د ماشوم ژوند په هر وخت کښې په لويو باندې اډانه وي چې په دې کښې بنيادي کردار د مور ، پلار ، نيا ، نيکهٔ ، ورونړو ، خوئېندو ،خپلو خپلوانو ، استاذانو ، ملګرو ، سرکار او چارپېرچل دے ـ د دې ټولو ضروري کارونو او خبرور سره سره د ماشومانو اخلاقي تربيت په شعوري او لاشعوري طور د قيصو په ذريعه هم کولے شي ـ د انسانانو په ژوند کښې د قيصو روايت ډېر د پخوا نه راروان دے خو د ماشومانو د پاره دا ډېر د اهميت وړ دے ـ

په ټولو ادبي اصنافو کښې عموماً او په قيصه ايز ادب کښې خصوصاً د "قيصی" ډېر اهم کردار دے ـ د پښتو په اولسي ادب کښې قيصی د ډېر وخت نه په مختلفو شکلونو او هئيتونو کښې راروانې دي ـ د قيصو ابتدائي اډانه په مافوق الفطرت حالاتو ، واقعياتو او کردارونو ولاړه وه چې د وخت د تېريدو سره سره د حقيقيت سره ډېره نزدے شوه ـ په دې قيصو کښې د ماشومانو قيصی هم د ډېر اهميت وړ دي ـ د ټېکنالوجي او ميډيا د راتګ نه مخکښې قيصه د ماشومانو د ژوند يوه اهمه حصه او مشغولا وه ـ کهٔ مېندو به د روني ماشومان په اللهو اوده کول نو نياګانو به لوے ګاني ماشومان په قيصو قلارول ، په دې قيصو کښې به د خوند او مزې سره سره تعليم او تربيت هم شامل وو ـ د وخت د تېريدو سره سره اګرچې د دې قيصو په روايت کښې کمے ضرور راغلے دے خو ضرورت او اهميت يې هم هغه شان څوان او تاند دے ـ

**"د ميندو سندرې هغه منظومې سندرې دي چې مېندې يې خپلو ماشومانو ته په مختلفو وختونو کښې وائي ـ کله چې ماشوم اوده کيږي نو مور ورته ډېر په ښکلي طرز دا لوبې وائي ـ او کله ورته د لوبو د پاره**

**هم دا سندرې وئيلې شي ـ دا سندرې د مېرمنو له خوا د اولسي شاعرئ په توګه پښتو ادب ته يوه ډېره لويه بخښنه ده ـ ـ ـ مېندې په دې سندرو کښې خپلو ماشومانو ته د خپلو مشرانو د بهادرئ قيصې کوي ـ ځکه چې هم د نن دا ماشوم د سبا پلاران دي ـ د ملک و قام مستقبل د دوي په لاس کښې وي ـ نو ځکه مېندې خپلو بچو ته هم د خپلو مشرانو په لاره د تلو تلقين کوي ـ او د راتلونکي ژوند د هرې لوړې او ژورې نه يې خبروي ،"** [1]

د ماشومانو د تربيت د پاره قيصه ځکه هم غوره او ضروري ګڼلې شوې ده چې په قيصه کښې د خوند او مزې سره سره تجسس هم وي چې ماشومان ځانته راکاږي ، توجو ورته کوي او په مېنځ يا په اخره کښې پوښتنې هم کوي او چې قيصه اوږده وي نو د نورو قسطونو انتظار هم ډېر په شدت سره کوي ـ قيصه د ماشومانو د مزاج سره ډېره نزدے او سمون خوړونکې ده ـ

د قيصې لفظ بنيادي طور د عربۍ ژبې نه ماخوذ دے په اردو کښې دا " قِصه " ليکلے شوے دے چې معنا يې کهاني ، داستان ، افسانه او حکايت دے [2] . په پښتو کښې دا لفظ په قيصه / کيسه استعمال شوے دے چې معنا او مطلب يې قېصه ، داستان ، حکايت او قصه دے [3] ـ مشهور پوهان او فلسفي افلاطون وېنا ده ـ

**" څنګه چې ورزش د ځوانانو بدن ته ګټه رسوي دغه شان قيصې د ماشومانو ذهن ته ګټه رسوي "** [4]

قيصې نه صرف زمونږ د ادب بلکې زمونږ د ماشومانو د فولکلور لازمي حصه ده چې اوس ټي وي،موبايل،لېپ ټاپ،ټېبليټ او انټرنېټ د دې قيصو ځاے نېولے دے ـ پروفېسر نواز طائر د پښتنو ماشومانو د قيصو د لرغونتيا په باره کښې داسې وائي ـ

**" زمونږ د ماشومتيا دا ورثه ډېره قديمي او لرغونې ده ـ دومره لرغونې ده چې بېدياے حکيم لا چرې پېدا هم نۀ وۀ،او د هوښيار او دانا بزر جمهير د کليله**

**و دمنه د اصلي مصنف شهزادګانو لا دنیا نۀ وه لیدلې چې پښتنو ماشومانو ته به دغه شان صوتونه، سندرې او وړې خوړې قیصې کولې شوې او نن هم لا هغه شان د بي بي کلانې، سرې ګوډې بېزې، ټونګرې ټامے، بي بي بانګے ملو، انګک بنګک، پوندانے، ګمبور راجه، د سکروټې او پوکڼۍ، د ګیدړ او بیزې، د نیکي بدي، د نیم کوني ورور، او داسې نورې بې شماره قیصی په پښتونخوا کښې هر چرته سره د خپلو صوتونو، نعرو اوساندو اورېدې شي ــ خدائے خبر چې دا ټول صوتونه، سندرې او قیصې به د کله راسې د پښتو د شفاهي او فولکلوري ادب دائمي حصه ګرځېدلي دي "[5] ــ**

جمیل کاچو خېل د خپل وخت د یو څو قیصو ذکر کوي کومې چې دوي د خپلو مشرانو نه اورېدلي دي او بیا یې خپلو ماشومانو ته هم کړي دي ــ

"سره ګډه بیزه، بي بي کلال بیګم، توره بان دیو، الال او دُلال، نیکے بدے، تا، ګیدړ او زمیدار، شیخ چلي، مُلا دوپیازه، مُلا نصیر الدین، د چین د ښاپېرو، کوه قاف، شهزادګانو شهزادګو، ملنګانو ، ولیانو، باچا هانو، پېریانو، دیوانو ګورئ چې ما څومره قیصې اورېدلي دي ــ ــ ــ زما په ناقص خیال او سوچ کښې د سوچه پښتنو قیصو اولنۍ پېژندګلي خو دا وه چې د کردارونو نومونه یې پښتانۀ خو عجیبه وو بل به پکښې شاعري خامخا وه ــ ــ ــ

پلار حلالولمه ـــــ مور ټک ټوک
کـــــوولـــــمــــه
مشـــــرې خور به په کونډو ونډو
ویشـــــلـــــمــــه
کشرې خور به په مسینو کوزډګو
کښـــــې ســــاتـــلـــمــه
زۀ شین طوطي شومه په بڼو بڼو
والــــوتـــــلـــــمــــه[6]

په ټولنه او ماشومانو کښې په شعوري او لاشعوري توګه د قیصې کردار ، اهمیت او ضروت ته ته ډاکټر اسماعیل ګوهر داسې ګوته نیولې ده ـــ

**" قیصې د پاره غور او فکر کونکي او قیصې جوړونکي ذهنونه د خپل عهد تخلیقي ذهنونه وو ـــ د هغوي احساسات او مشاهدات ډېر مثبت او د تعمیري جذبې په طور د قیصو په واقعاتو او د کردارونو په نفسیاتو کښې سر پورته کوي او خپل معنویت په اوریدونکي تسلیموي ـــ مینه، ایثار، غریب پروري، سخاوت، بهادري عدل او انصاف، صله رحمي، درګزر او دغسې نورې اعلٰی انساني خوبیانې څرګندول د مافوق الفطرت قیصو مقصد پاتے شوے دے ـــ دغه شان ټولو انساني کمزوریو او خامیو لکه حرص و هوس، ظلم، چل ، فریب، خود غرضي، تکبر او منافقت وغېره نه د نفرت پېدا کولو تخلیقي کوششونه شوي دي "[7]**

په اصل کښې دا قیصې د ماشومانو د روایتي تربیت د نصاب حصه وې چې په دې کښې به په نفسیاتي ، عوامي او لاشعوري توګه د ماشومانو اخلاقي تربیت کېدلو ـــ

د پښتو په روایتي او اولسي قیصو کښې اکثر د پېریانو، دیوانو بووبلاګانو او نورو ویرونکو منظرونو او یا داسې بې فائدې، بې معنې او بې نتیجې قیصې شته چې د ماشوم په نفسیاتو ښهٔ اثر نهٔ کوي ـــ او بیا ماشومان په تیارهٔ کښې یا په یواځې ځاے کښې د یرې ښکار وي ـــ هغه ویرونکي منظرونه ورته مخې مخې ته کیږي او هر څیز ورته بَو بلا ښکاري[8] ـــ دغه نفسیاتي اثر چې د ماشوم د عمر سره مخکښې لاړ شي نو د یرې سره په توهماتو او نورو نفسیاتي بیمارو کښې بدل شي ـــ ښهٔ او بد په هر څهٔ کښې وي دا د مشرانو ذمه واري ده چې ماشومان د داسې قسمه قیصو نه اوساتي او صحت مندې قېصې ورته اووائي ـــ

پروفېسر داور خان داود د اولسي قیصو د اهمیت او افادیت په باره کښې لیکلي دي چې ـــ

" ماشومان د قیصو هم ډېر شوقین دي ـ تر هغه د شپې خوب نۀ ورځي ،تر څو چې ورته مور پلار یا نیا نیکۀ قیصې نۀ وي وئېلې (اورولې ) ـ د ماشومانو بې شمېره اولسي قیصې دي چې د وئیلو او اورولو بیل بیل انداز لري ـ ځینې قیصې منثورې دي او ځینې منظومې ـ د قیصې په اوان کښې د ماشومانو د دلچسپۍ په ځاے ساتلو دپاره، د ځینې قیصو مینځ تر مینځه لکه د روماني قیصو او داستانونو غړونه او نارې هم وئیلې او اورولې شي [9]" ـ

زمونږ روایتي او اولسي قیصې هم نۀ خوندي شوي دي او نۀ پرې څېړنه شوې ده دغه وجه ده چې ورځ تر ورځه کمیږي او ختمیږي ـ د دې قیصو د ژوندۍ پاتې کېدو د پاره ضروري ده چې پښتانۀ لیکوال داسې قیصې اولیکي چې کردارونه او قیصه یې زمونږ د کلتور سره ډېر نزدے وي، قیصه پکښې زمونږ د کلتور عکاسه وي او د توهماتو او مافوق الفطرت په ځاے پکښې حقیقي او حقیقت ته نزدے واقعیات او حادثات بیان شوي وي ـ

"یہ بھی ایک تسلیم شدہ حقیقت ہے کہ دوسرے نقشوں کی بہ نسبت گیتوں اور کہانیوں کا نقش بچوں کے ذہنوں پر بہت جلدی چڑھ جاتا ہے۔اور ان کا اثر بہت دورس ہوتا ہے۔اور اس لئے ماہرین نفسیات اس امر پر متفق ہیں کہ دوسرے ذرائع کی بہ نسبت قصوں اور کہانیوں کے ذریعے بچوں کی تربیت آسانی سے کی جا سکتی ہے۔کیونکہ ان میں درس بھی ہوتا ہے اور بچوں کی دلچسپی کا سامان بھی۔ان میں ان کے آباؤاجداد کی بہادری کے کارنامے بھی ہوتے ہیں۔اور بلند اخلاقی معیار کے کارنامے بھی۔جب وہ ان قصوں کو سنتے یا پڑھتے ہیں تو وہ بھی اپنے آپ میں بہادری اور بلند اخلاق کے جوہر پیدا کرنے کی کوشش کرتے ہیں"[10]۔

ژباړه: دا هم یو منلے شوے حقیقت دے چې د نورو نقشونو په نسبت د سندرو او قیصو نقش په نسبت د ماشومانو ذهن ته زرکوزیږي او ددې اثرات هم ژور وي ـ په دې وجه د نفسیاتو ماهرین په دې خبره یوه خولۀ دي چې د نورو وسېلو په نسبت د قیصو په ذریعه د ماشومانو تربیت په اسانه کېدے

شي ـ ولې چې په دې کښې د سبق سره سره د ماشومانو د ذوق سامان هم موجود وي ـ په دې کښې د دوي د مشرانو د نرتوب کارنامې هم موجود وي او اخلاقي کارنامې هم ـ کله چې دوي دا قيصې اوري يا لولي نو دوي هم په خپل ځان کښې د دغه صفاتو پېدا کولو کوشش کوي ـ د هندکو، اردو او پښتو شريک لېکوال ،کالم نګار پروفېسر ناصر علي سيد د خپل دور د نصابي قيصو د اهميت په حواله په يو کالم کښې ليکلي دي چې د هغې زمانې قيصې مې اوس هم په يادونو کښې پرتې دي او په دغه قيصو کښې دننه دانش، بصيرت او حکمت ته حيران پاتې شم چې د ژوند د تېرولو او مهذب کولو داسې جادوئي اثر په دغه قيصو کښې پروت وو چې دغه پخوانۍ قيصې د نن د عصري تقاضو سره هم سمون خوري ـ

پروفېسرمحمد نواز طائر د دې اولسي قيصو دا لانديني شپږ قسمونه ياد کړي دي ـ

**" (ا) د ډېرو وړو ماشومانو قيصې ـ**

**(ب) د هغه ماشومانو قيصې چې په مينه او نفرت پوهيږي ـ**

**(ج) د ويرې او رحم د احساس پېدا کولو قيصې ـ**

**(د) د ادب او معاشرتي ژوند په حقله د تعليم ورکولو قيصې ـ**

**(ه) د پېريانو، ديوانو او توهماتو قيصې ـ**

**(و) اخلاقي او مذهبي قيصې ـ**

**(ز) او د تورې او مړانې قيصې ـ"** [11]

هسې خو په مجموعي توګه دا قيصې ختمېدو ته نږدې دي خو بعضې قيصې لکه د پېريانو، ديوانو،توهماتو او نوري يرونکې قيصې بيخي ختمې دي او کۀ ختمې نۀ وي نو پکار ده

چې ختمې شي ځکه چې دا د ماشومانو د نفسياتي پرمختګ د پاره ښۀ نۀ دي ـ

په عوامو کښې چې کومې قيصې وې د هغې شروع به اکثر د دې صوت نه کېده ـ

يو باچا وو ناست په
دونـــکــــاچــــــه وو*
کور يې باغيچه وو
خوراک يې مېنچه وو
د لور نوم يې غنچه وو
په کنده زغاښتو
د خمچو ټوک په لاس وو[12]

مونږ ته چې به کله مشرانو قيصه کوله نو اختتام به يې په دې صوت کوو ـ

قيصه لاړه ګواټې له ـ زۀ راغلم پراټې له

بيا ورسره دا صوت هم ملګرے شو ـ

په کټ کښې مې ځاے نشته ـ په زمکه مې بالخ

د ټولو زړګې يخ

د قيصې اختتام به هم مشرانو ډېر په خوندور انداز کوو او د اکثرې قيصې په اخر کښې به صوت او سندره ضرور وه ـ

**" قيصه لاړه ګوهاټې له ـ زۀ راغلم پراټې له : ماشومانو ته چې قيصه خلاصه شي نو مور يا نيا څوک چې ورته قيصه کوي دا الفاظ وائي مطلب دا چې قيصه خلاصه شوه "[13]**

په دې قيصو کښې به داسې د سوچ او فکر داسې خوږ تجسس موجود وۀ چې ماشومان به يې د ځان سره واخېستل او د خوب غېږې ته به يې ورسول ـ د اودۀ کېدو په وخت کښې

کۀ د غېږې د ماشومانو د پاره د" اللهو" سندرو د "فنرګان" شربت کار کولو نو د لړ لوے ګاني ماشومانو د پاره به قیصو د "اے تي ون " ګولو کار کولو ــ

داسي پښتون او پښتنه به نۀ وي چي د دې قیصو او صوتونو نه به يې څۀ نه څۀ تربيت او زده کړه نۀ وي اخستې خو د وخت د بدلون سره سره په دې کښي بدلون وۀ نۀ شو په دې وجه پرمختګ يې ونۀ کړې شو خو اوس هم موجودې دي ــ کۀ چرې راغونډې نۀ شوې نو پښتو ادب به د ماشومانو د اولسي قیصو په پنګه کښي بيخي خالي پاتے شي ــ

> **"دغه رنګ ډېرې خوند ناکې قیصې د پښتو د هغې ادب حصه دي چي د ماشومانو تربيت پرې کولې شي ــ او د هغوي د ژوند په تنه بوده کښي د ملي ثقافت او اولسي ژوند د آدابو تخم کړي ــ دا زمونږ د ادب يو ناليکلے خو غېږ فاني خزانه ده ــ دا خزانه کۀ چرې راجمع کړې شي ، نو يو خو به د پښتون ملت د نوي کهول د تربيت يوه مؤثره ذريعه په لاس راشي او بل د جديدو علومو يعنې د سوشيالوجي (Sociology) علم الانسان (Anthropology) علم اللسان (Linguistics ) او د انساني تاريخ تمدن او معاشرتي وحدتونو او مماثلت د درک لارې چارې معلومول به سوکه او اسان شي ــ د انساني تمدن د لرغوني رواياتو جرړې په داسي ادب کښي ځکه محفوظې پاتې وي چي د وخت انقلابونه کۀ تمدني وي او کۀ معاشرتي، علمي او مذهبي وي يا کۀ ثقافتي خو د دې انقلاباتو د ماشومانو په لوبو سندرو او قيصو وغېرۀ ډېر کم اثر کيږي ــ او ځکه دا عموماً د وخت او زماني د دستربرد نه په امان پاتے وي ــ "14**

د ماشومانو عقل او پوهه کچه وي او کچه ذهن خبره زر اخلي او ياده يې هم ساتي ــ د ماشومانو ځانله دنيا وي او دا دنيا ډېره محدوده وي په دې وجه کۀ بدلونونه راځي نو د دوي فطرت نۀ شي بدلولي البته د ډېر وخت په تېرېدو په دې کښي ادلون بدلون ضرور راځي ــ

دا قیصې صرف اولسي نهٔ وې بلکې دیو وخت نه په نصاب کښې هم شاملې راروانې دي په کوم وخت کښې چې په پښتو کښې د قیصو خپل کتابونه نهٔ وو نو پوهانو د نورو ژبو نه ترجمه کړي دي او دغه ضرورت یې پرې تر یو حده پوره کړے دے ـ په دې کښې د ټولو په مشهوره او وړومبۍ ترجمه د شیخ سعدي د فارسی د کتاب " گلستان " ده چې عبدالقادر خان خټک پښتو ته د "گلدسته " په نوم ترجمه کړے دے ـ

**"د گلدستې د لوست نه دا خبره په ښهٔ شان سره جوتیږي چې په دې کښې راوړې شوې دا وړې وړې نصیحت آموزه قیصې د ماشومانو اخلاقي تربیت په لړ کښې کلیدي کردار لوبولے شي ـ او د گلستان د دغه افادیت ترمخه د گلستان ترجمه د نړۍ په ډېرو ژبو کښې شوې ده ـ او د مودو مودو نه د نړۍ په ډېرو پوهنتونونو او د دیني مدرسو په نصاب کښې شامل دے"[15] ـ**

دغه روایت تر نن پورې راروان دے او په څهٔ نه څهٔ شکل او مقدار کښې د پښتو د نصاب په کتابونو کښې قیصی شاملې دي چې د ماشومانو په تعلیم او تربیت کښې اهم کردار ادا کوي ـ

## نتیجه:

د دې څېړنې نه دا نتیجه په ډاګه شوه چې قیصې د ماشومانو په تربیت کښې انتهائي اهم کردار ادا کوي ـ کومو مشرانو او پوهانو چې دا قیصې اوریدلې دي د هغوي په ژوند کښې د دې ښکاره نښخې نخښانې شته په دې وجه یې د خپلو کشرانو او راتلونکي کهول د پاره ضروري گڼي ـ

## سفارشات :

د دې څېړنې او عصري بندلون په تناظر کښې زهٔ دا تجویزونه وړاندې کووم ـ

1. د پښتو قیصې دې ډیجېټلائزډ شي چې ماشومان یې په اسانه گوري ـ

2. د نصاب سره په کورنو کښې هم د قیصو روایت ژوندے ساتل پکار دي ـ
3. په ریډیو او ټي وي د دې قیصو سیریل به هم ګټه وکړي ـ

## حوالې

[1] شاه جهان" په پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه" پښتو اکیډمي پېښور پوهنتون"۱۹۹۳ ،مخ ۵۶-۵۷

[2] فیروزالغات،فیروز سنز لمیٹڈ لاہور،2005،ص1015

[3] قلندر مومند،فرید صحرائي "دریاب" لغت،ټېکسټ بک بورډ پېښور،۱۹۹۴ء ، مخ ۱۰۰۲

[4] غضنفر، اسدالله،نجیب منلے ، د ماشوم ادب " د ادبیاتو دنیا" ۱۳۹۹ هـ ش ،مخ ۴۳۹

[5] طائر ،محمد نواز "په پښتو کښې د ماشومانو صوتونه او سندرې" مخونه ۱۹ او ۲۰

[6] کاچو خېل محمد جمیل " اوس دا یادونه افساني ښکاري" مخونه ۳۴ او ۳۵

[7] اسماعیل ګوهر،ډاکټر " د پښتو اولسي قیصې" ادب محل پېښور،۲۰۲۱ء ، مخ ۸

[8] هم دغه کتاب مخونه ۳۶ او ۳۷

[9] داود، داور خان" پښتو فولکلور کښې اړ" مخ ۳۴ او ۴۴

[10] مغموم خٹک،ڈاکٹر یار محمد "بچوں کی لوک کہانیاں" پشتو اکیڈمی پشاور،2008ء،ص11

[11] طائر محمد نواز " په پښتو کښې د ماشومانو صوتونه او سندرې" مخ ۹۱

[12] طائر محمد نواز " په پښتو کښې د ماشومانو صوتونه او سندرې" مخ ۹۲

[13] پښتو لغت ، پښتو اکیډمي پېښور پوهنتون، ۲۰۱۸، مخ ۱۳۳۳

[14] طائر محمد نواز " په پښتو کښې د ماشومانو صوتونه او سندرې" مخ ۱۰۱

[15] مظهر احمد، صابر علي صابر" د عبدالقادر خان خټک "ګلدسته" کښې د ماشومانو اخلاقي روزنيزه کتنه" مشموله مجله "پښتو" پښتو اکيډمي پېښور پوهنتون،جنوري-جون ۲۰۱۹، مخ ۹ ـ

Pukhtunkhwa Journal